مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباري جهانی
۲۰۲۳/۰۵/۲۵

# غزل

« ته به ښه سړی یې خو زموږ کلی مُلا نه نیسي»
دا سر زوري خلک غوږ پر هره وینا نه نیسي
چاته به په چیغو خپل د ورکي ګرېوان څیري کړم
ښکلي په دې ښار کې څوک د زړونو په غلا نه نیسي
څه چي مي په زړه دي هغه ژبې ته راغلي دي
خدای مي دي ملګرو په دې لویه ګناه نه نیسي
توري د پنځو زرو کلونو زنګ وهلي دي
زور لرو زلمي لرو خو مخ د بلا نه نیسي
ژر به محتسبه د رندانو آزار ووینې
شمع په پانوس کې ستا له وېري رڼا نه نیسي
ورځ به په خلوت کې د ګناه د حسابونه وي
نن که دې وګړي د منبر په ریا نه نیسي
ټل به تهمتونه د زندان زولني نه ویني
ټل به تر لمني هر یوسف زلیخا نه نیسي
پورته به ملاله په رنګین بیرغ کې چیغه کړي
ټل خو به حسین لره یزید کربلا نه نیسي
پرېږده جهاني د ځوانیمرګو د محفل کیسه
اوس هغي لمبې ته وزرونه بورا نه نیسي.
د ۲۰۲۳ کال د مې شپاړسمه، ویرجینیا.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ